# کرونا؛ د ډیموکراتیکو دولتونو ناسمې حللارې او اسلامي بدیلونه

خلک او سیاسي نظام د هر ناورین د حل لپاره حللارې له هغه مبداء یا ایډیولوژۍ څخه اخلي چې خلک او سیاسي نظام پرې عقیده لري. مګر د کرونا نړیواله وبا په داسې حال کې افغانستان ته راغلې چې سیاسي نظام یې پر ډیموکراسۍ او پانګواله ایډیولوژۍ عقیده لري او عام ولس پر اسلام او اسلامي حللارو. نو ځکه د ولس او نظام تر منځ د افهام او تفهیم ژبه ستونزمنه کېږي او کوم پیغامونه او حللارې چې دولت رسوي، خلکو ته عملي او حللارې نه برېښي. نو ځکه دولت له دغه وبا سره د خلکو له چلند څخه راضي نه دی او خلک هم د دولت له پالیسیو او حللارو څخه.

د کوید ۱۹ نړیوالې وبا د خپرېدو په اړه د خلکو د وېرې فعال علاج ته اړتیا ده، ترڅو خلک په ټولنه کې خپله د وېرې د خورېدو سبب نشي او غیر لازمو طبي خدماتو ته لاس وانه چوي، ځکه دا د دوی د بدن معافیت لا را ټیټوي. مګر دا چاره هغه وخت ممکنه ده چې دولت، ولس، علماوو او رسنیو په ګډه د واحد اسلامي فکر، عقیدې او حللارو په توګه له ناورین سره چلند کړی وای.

له هر څه د مخه یې ټولنې ته پیاوړي او قوي اسلامي مفاهیم وړاندې کړي وای. هغه دا چې خلکو ته یې د دې فضا جوړه کړې وای چې کورونا یوه ویروسي وبا ده چې په ټولنه کې د نورو ناروغیو خلاف په ساري ډول خپرېږي. دغه وبا په نړۍ کې د بشري نظامونو، وضعي قوانینو او د ضعیفو انسانانو د عقلي حللارو د تطبیق پایله ده، نو ځکه باید انسانان بېرته د الله سبحانه وتعالی لور ته، د هغه د را استول شوي دین (اسلام) حللارو ته رجوع وکړي او له اخلاصه ډکه توبه وباسي. ځکه په دې اړه الله متعال فرمايي:

**﴿ظَهَرَ الْفَسَادُ فِي الْبَرِّ وَالْبَحْرِ بِمَا كَسَبَتْ أَيْدِي النَّاسِ لِيُذِيقَهُمْ بَعْضَ الَّذِي عَمِلُوا لَعَلَّهُمْ يَرْجِعُونَ﴾** [الروم: 41].

*ژباړه: په وچه او اوبو کې د خلکو د لاسونو پر عملونو سره فساد ښکاره شوی دی، نو الله سبحانه وتعالی پر دوی باندې د هغو عملونو د سزا خوند څکي چې دوی ترسره کړي دي، ښایي چې دوی رجوع وکړي.*

مګر دغه ناروغي د انسانانو د مړینې سبب نه ده، بلکې د مرګ سبب د یوه انسان د اجل د نېټې رارسېدل دي، چې هغه هم یوازې د الله متعال په علم او واک کې دی. او دا هغه څه دي چې په قرآن او سنتو کې په قطعي ډول ثابت دي. طاعون، وبا، کرونا او ... یوازې د مړینې حالات دي او بس. د افغانستان اکثره وګړي، پر دغه مفهوم باور لري، مګر نظام او حاکم چارواکي اصلا په ټولنه کې د دا ډول مفهوم پر خپرولو باور نه لري. حال دا چې یوازې همدغه مفهوم زموږ د ټولنې د معافیت پر لوړولو کې کافي رول ادا کولی شوای.

دې ته ورته دا فضا شوې وای چې وبا د پخوانیو امتونو لپاره عذاب و، مګر د اسلامي امت لپاره رحمت او شهادت دی. ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «**أَنَّهُ عَذَابٌ يَبْعَثُهُ اللَّهُ عَلَى مَنْ يَشَاءُ وَأَنَّ اللَّهَ جَعَلَهُ رَحْمَةً لِلْمُؤْمِنِينَ لَيْسَ مِنْ أَحَدٍ يَقَعُ الطَّاعُونُ فَيَمْكُثُ فِي بَلَدِهِ صَابِراً مُحْتَسِباً يَعْلَمُ أَنَّهُ لَا يُصِيبُهُ إِلَّا مَا كَتَبَ اللَّهُ لَهُ إِلَّا كَانَ لَهُ مِثْلُ أَجْرِ شَهِيدٍ**» رواه البخاري.

*ژباړه: داسې عذاب دی چې الله سبحانه و تعالی پر هر چا چې وغواړي نازلوي او الله هغه د مومنانو لپاره رحمت جوړ کړی هر څوک چې د طاعون د راتګ پر مهال په هماغه ځای کې پاتې شي او صبر وکړي او پوه شي چې د الله سبحانه و تعالی له غوښتنې پرته بل څه نه پرې نازلیږي، هغه ته به د شهید اجر ورکړل شي.*

**مګر زموږ د حکومت او رسنیو په فرهنګ کې اصلا د اجل، صبر، رحمت او شهادت مفاهیم نه ترسترګو کېږي. بلکې هرڅه یې د کفري نړۍ پر تجربو او د نړیوال روغتیایي سازمان پر توصیو ولاړ دي. چې دا خپله زموږ پر ټولنه د الله سبحانه وتعالی د عذاب د نازلېدو او د عامو او خاصو انسانانو د هلاک کېدو سبب ګرځي. ځکه زموږ چارواکي زموږ په اسلامي عقیده او مفاهیمو باور نه لري، بلکې له الله سبحانه وتعالی سره یې د اړیکې پرځای له کفري دولتونو او کفري نړیوالو سازمانو سره اړیکه پیاوړې کړې ده او د الله سبحانه وتعالی د لارښوونو پر ځای د کفارو لارښوونو ته تسلیم شوي دي.**

حال دا چې مسلمانان باید د الله سبحانه وتعالی لور ته د دعا، توبې، مسکینانو سره د مرستې، د مریضانو د علاج لپاره د صدقاتو راټولولو ته وهڅول شي او خلکو ته ورپه یاد شي چې په دنیا کې مسلمانانو ته د هر راز ضرر رسېدل په آخرت کې د هغوی لپاره د ستر اجر لامل دی، څکه رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: **«مَا يُصِيبُ الْمُسْلِمَ مِنْ نَصَبٍ وَلاَ وَصَبٍ وَلاَ هَمٍّ وَلاَ حُزْنٍ وَلاَ أَذًى وَلاَ غَمٍّ حَتَّى الشَّوْكَةِ يُشَاكُهَا، إِلاَّ كَفَّرَ اللَّهُ بِهَا مِنْ خَطَايَاهُ» رواه البخاري.** ژباړه: مسلمان ته د ستونزې، مصیبت، هم، حزن، ضرر، غم او آن د یوه اغزي داخلېدل د هغه بدن ته نه دي، مګر د دې لپاره چې الله متعال یې له ګناهونو څخه کموي.

لازمه وه چې حکومت له لومړي سره له هغو هېوادونو سره خپل ځمکنی او هوایي تګ راتګ بند کړی وی او یا یې شفاف کړی وای چېرته چې د کویډ ۱۹ وبا خپره شوې وه. مګر دوی له دغه چارې سره ډېر بېباکانه چلند وکړ. آن خپل ولس ته یې په دوامدار ډول دروغ وویل او په هوایي ډګرونو، سرحدونو او ځانګړو شوو روغتونونو کې یې د لازمو تدابیرو تبلیغات کول، خو اکثره یې ظاهري او دروغ وو. ترهغه چې د افغانستان په ګوټ ګوټ کې د خلکو په منځ کې ناروغي خپره شوه.

دې ته ورته ټول هغه کسان چې افغانستان ته له بهره راتلل، باید له کافي معایناتو او څېړنو وروسته ټولنې ته د داخلېدو اجازه ورکړل شوې وای. په دې برخه کې هم غیر شفاف او سلیقوي چلند وشو. څکه حاکم چارواکي د دغو کارونو لپاره لازم امکانات نه لري او څه یې چې د خلکو له جیبونو نه د مالیاتو تر نامه لاندې غلا کړي وو، هغه یې ټول په ډیموکراتیکو ټاکنو کې د خپلو رقابتونو لپاره مصرف کړل.

همداراز په کورونو کې د قرنطین مسئله باید له لازمو، شرعي، معقولو، علمي او واقعي لارښوونو سره سم ترسره شوې وای. حال دا چې په دغه برخه کې افغان دولت د خپلو کافرو بادارانو څخه ړوند تقلید کوي او د نړیوال روغتیایي سازمان فشارونو ته له هر ډول معقولیت پرته تسلیمېږي. ترڅو د الله متعال د رضایت او د خپل مسلمان ولس د خدمت او مصؤنیت پرځای د خپلو بادارانو رضایت ترلاسه کړي. نو څکه وینئ چې په دې برخه کې د تدابیرو په لړ کې پراخ تناقضات او ستونزې لیدل کیږي.

**د کویډ۱۹ وبا د مړینې کچې ته په کتو، د ټولنې تر ټولو زړو، ضعیفو او ناروغو انسانانو ته مرګ ژوبله پېښوي. په ماشومانو، ښځو او ځوانانو کې یې د مرګ ژوبلې کچه ډېره کمه ده. دغه واقعیت ته په کتو د نړۍ اکثره سیاستوال، پانګوال او د رسنیو خاوندان د دغه وبا د مرګ تر تهدید لاندې دي، نو څکه هغوی د ځان د ساتنې لپاره داسې تدابیر نیسي چې ګڼې سیاسي، اقتصادي، ټولنیزې او اخلاقي ستونزې رامنځ ته کوي او په ټولنه کې د ګډوډۍ سبب کیږي.** نو څکه ستر ناورین له کورنا څخه نه، بلکې د کافرو، ظالمو او لاسپوڅو چارواکو له غلطو تدابیرو او حللارو څخه احساسیږي او دا هغه ټکی دی، چې غربي چارواکي یې د ځان ساتلو په قیمت د کپیټلېستي ناورین سره مخ کړي او په ټولنه کې یې د تولید، توزیع او خدمتونو وړاندې کولو څرخ په ټپه درولی او د سهامو بازارونه سخت رالوېدلي، افرادو او شرکتونو ته پراخ مالي زیانونه اوښتي. تر دې چې د پانګوالی وهمي ارقام، د بانک نوټونو ارزښت او ... هرڅه بربنډ شوي دي.

د افغانستان په ټولو ولایتونو کې باید د وړیا معایناتو خدمتونه تامین شوي وای. حال دا چې په دې برخه کې شوي اقدامات نه کافي دي او نه هم افغانستان شموله.

لکه څنګه چې زموږ په جګړه ځپلې خاوره کې د فقر، بې کارۍ او لوږې ستونزه ټول احساسوي، دولت باید خلکو ته لازمې مرستې رسولې وای او همداراز یې د ټولنې پر شتمنو کسانو غږ کړی وای او پر هغوی یې ټاکلې مالیه وضع کړې وای، ترڅو د شتمنو ترڅنګ د بې وزلو د ژوند د چارو سرپرستي هم په ښه توګه ترسره شوې وای.

خلکو ته باید د پاک کولو او وینځلو وسایل په وړیا توګه وېشل شوي وای، په ځانګړي ډول د هغو کورنیو لپاره چې هغوی یې د اخیستلو وړتیا نه لري.

پر سوداګرو باندې احتکار د یوه حرام عمل په توګه منع شوی وای، ترڅو د وبا تر نامه لاندې یې د خلکو له جیبونو څخه پاتې پیسې نه وای غلا کړې. خو دا ټول هغه وخت ممکن وو چې زموږ نظام اسلامي وای او چارواکو مو پر اسلامي حللارو باندې عقیده درلودای. څکه اسلام د یوه مکمل دین په توګه زموږ دا ډول ناورینونو ته هم کافي حللارې لري. آن تر دې چې اوس یو شمېر غربي مفکرین او متخصصین د نړۍ په لویو ورځپاڼو کې د هغو یادونه کوي. د بېلګې په توګه ډاکټر کریګ

کونسیډین نیوزویک ته په یوه لیکنه کې لیکلي وو چې پیغمبر محمد «لومړنی» کس و چې د وبا پرمهال یې روغتیایي بېلوالی او د شخصي نظافت ساتلو تجویز ورکړی دی.

څکه بخاري په خپل صحیح کتاب کې له اسامه بن زید او هغه له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کړی دی:

**«إِذَا سَمِعْتُمْ بِالطَّاعُونِ بِأَرْضٍ فَلَا تَدْخُلُوهَا وَإِذَا وَقَعَ بِأَرْضٍ وَأَنْتُمْ بِهَا فَلَا تَخْرُجُوا مِنْهَا»**

*ژباړه: کله مو چې واورېدل چې په یوه ځمکه کې طاعون رامنځته شو هغې ځای ته مه ځئ او کله چې په داسې ځای کې اوسېږئ چې طاعون رامنځته شو، له هغې څخه بهر مه ځئ.*

نو دا د دولت دنده ده، چې د دا ډول ناروغیو پر مهال د خلکو فکري او رواني وضعیت د اسلام پر بنسټ ثابت وساتي او عملا د ناروغۍ د رامنځ ته کېدو ځای قرنطین کړي او د هماغه سیمې اوسېدونکي اړ کړي، ترڅو هم هلته پاتې شي او دې ته ورته د نورو سیمو اوسېدونکو ته اجازه ورنه کړي چې په وبا اخته سیمې ته لاړ شي. چې دا چاره نه چین دولت، نه نورو دولتونو او نه هم افغان دولت ترسره کړه. ځکه دغو ټولو ته د خلکو د ژوند په پرتله مادي ګټې او سیاسي رقابتونو اهمیت درلود.

دا یوازې اسلامي دولت دی چې خپل مسوولیت به د الله سبحانه وتعالی د رضایت لپاره، د خلکو د چارو په سمه سرپرستۍ سره، د بشپړ اخلاص په ترڅ کې درک کوي او په امانت دارۍ سره به خلکو ته لازم خدمات رسوي. ځکه دولت شرعا مکلف دی چې ټولې روغتیایي اړتیاوې، خدمات او درمل په وړیا توګه خپلو اتباعو ته ورکړي. دا مهال به د ناروغانو لازمه درملنه کیږي او سالم کسان به هم د جمعې لمونځ، هم نور فرض لمونځونه په جماعت ادا کوي او د حج او عمرې چارې به هم پر مخ بیایي او په عادي توګه به ټولنیز او اقتصادي ژوند د مخکې په شان پر مخ روان وي. نه دا چې د عامه او اقتصادي ژوند په درولو سره به روغتیایي ناورین په ستر بشري ناورین بدلوي. هغه مهال به خلیفه، والي، د کور مشر او بل هر مسوول د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دغه حدیث شریف چې **«كُلُّكُم رَاعٍ** او یا **فَالإِمَامُ رَاعٍ، وَهْوَ مَسْئُولٌ عَنْ رَعِيَّتِهِ»** رواه البخاري. چې هر یو ستاسو مسوول دی او یا امام هغه راعي دی چې د خپل رعیت مسوولیت لري. پر بنسټ عمل کوي. نو له اسلامي نظام پرته زموږ چارې د راعي (شپانه) په لاس کې نه، بلکې د لېوانو په واک کې دي او د هر ناورین پرمهال چې خلک ګورې، لکه یتیمان، چې له هرې دروازې شړل شوي او رټل شوي دي. نو دا د ټولو مکلفیت دی چې د دغو لاسپوڅو نظامونو حقیقت درک کړي او د هغوی د راپرځولو او پر ځای یې د اسلامي نظام د تاسیسولو لپاره په ګډه مبارزه وکړي. حزب التحریر ستاسو په منځ کې د مخلص لارښود په توګه مبارزه کوي او خپل اهل (امت) ته هېڅکله دروغ نه وايي؛ نو راپورته شئ، هم د کورونا د ناورین پر وړاندې یو بل ته لاس ورکړئ او هم د اسلامي نظام د تاسیس لپاره، ترڅو له اوسني ناوړه وضعیت څخه ووځو او د رب العالمین رضایت ترلاسه کړو.

**سیف الله مستنیر**
**د حزب التحریر ولایه-افغانستان د مطبوعاتي دفتر رییس**